قرآن پال او ملي شتمنى.......................................................٦٢١
ذليل انسان د دولت شتمني غلا كوي ........................................ ٦٢١
حيرانوونكې كېسې عزت سرچينې........................................... ٦٢٣
ذليل پوهان فرعي اختلافاتو ته لمن وهي...................................... ٦٢٣
د عزتمن عالم كيسه!.......................................................... ٦٢٤
كله چې ايماني عزت له لاسه ووت........................................... ٦٢٥
قرآني شخصيت بشري پرگنو ته عزت ببښي ................................. ٦٢٦
هسكو مقامونو ته د رسېدو لار .............................................. ٦٢٨

**پنځلسم فصل**

(١٠) آيَاتُ اللهِ................................................................٦٢٩
ارزښتناكې نښې.................................................................٦٣٠
قرآن ، بشري او طبيعي نښې.................................................. ٦٣٢
له قرآن سره ستره جفا.........................................................٦٣٤
د كايناتو د آيتونو لپاره مؤمنانه كار ...........................................٦٣٥
طبيعي قوانين او اجتماعي اصول د ايمان په غياب كې.................... ٦٣٦

د الحاد مکتب........................................ ٦٣٦
عقده منه طبيعي څېړنه................................ ٦٣٨
بې علمه دين او بې دينه علم.......................... ٦٣٩
د وحې حاملين او د الحاد رنځ........................ ٦٣٩
د الحاد تورتم ، اسلامي هېوادونه او اروپا............ ٦٤٠
د کايناتو څېړنه او الحاد............................ ٦٤١
د لويديځوالو پرځای مسلمانان د کمونېزم ښکار شول..... ٦٤٢
د طبيعت او ټولنې څېړنه ............................. ٦٤٤
ولې يا لوړه او يا حرام خواره؟ ....................... ٦٤٦
په لويديځ کې د آيتونو څېړنه.......................... ٦٤٦
په نړۍ کې طبيعت څېړنه د اسلام د رښتينولۍ سند........ ٦٤٧
طبيعي څېړنه او لابراتوار د اسلام رښتيني مدافع وکيلان دي ........ ٦٤٨
د طبيعت پر وړاندې شرعي ژمنې.......................... ٦٤٨
د دارويني نظر نامعقوله برخه.......................... ٦٥٠
مسلمانان ولې کار ونکړای شو.......................... ٦٥١
آيت د لاندې نښو په معنا دی.......................... ٦٥٢
قرآني نښې هله روښانه شي............................ ٦٥٤
د نښو عامېدل او عملي کېدل.......................... ٦٥٤
د کايناتو د نښو څېړنه او د دين تطبيق................ ٦٥٦
د کايناتو د نښو څېړنه او حقپالنه.................... ٦٥٧
د تجارت جهاد او شهادت؟ ............................ ٦٥٧
لاندې آيتونو ته ځير شئ!............................. ٦٥٩
الله تعالی يادول ، لمونځ کول او تجارت کول دي ........ ٦٦٠
د پورته خبرو لا وضاحت............................... ٦٦٠
د فاسدو سياسي قيادتونو ژوند نښې او چار نښې.......... ٦٦٢
د اسلامي سياست نيمگړی کتابتون....................... ٦٦٥

د اجتماعي فساد نښې.................................................. ٦٦٧
د ظالمانه ټولنيزو جوړښتونو نښې .......................................... ٦٦٨
پخپلو خلکو بې اعتمادي او پر پرديو اعتماد................................... ٦٦٩
په جنسي فساد کې د ښکېلو نښې............................................. ٦٦٩
څو ودونه :.................................................................. ٦٧٠
محکمې يا متشابهې نښې ..................................................... ٦٧٣
دنګې ودانۍ آيتونه............................................................ ٦٧٤
د پوهانو د زړه خبرې آيتونه .................................................. ٦٧٥
آيتونه معجزې................................................................ ٦٧٥
پندونه آيتونه.................................................................. ٦٧٦
کتاب يعنې آيتونه ............................................................. ٦٧٦
امر و نهې الهي آيتونه.......................................................... ٦٧٧
حرام په حلالو له منځه ځي..................................................... ٦٧٨
قرآني اوامر او نواهي تلقيني او تعليمي دي ..................................... ٦٧٩
زمونږ اساسي ستونزه .......................................................... ٦٨٠

**شپاړسم فصل**

(١١) فصل ..................................................................... ٦٨١
دونيا او اخرت پالنې ترمنځ فصل ............................................. ٦٨٦
د پوښتنو فصل ................................................................ ٦٨٦
د بې برخو او برخمنو فصل..................................................... ٦٨٧
د دې محروميت عاملين ، عوامل او د پايلې فصل.............................. ٦٨٨

**اوولسم فصل**

(١٢) عجبا ..................................................................... ٦٨٩
عجب: حيرانوونکی کتاب دی................................................... ٦٨٩
د رد ، نه منلو او انکار په معنا ................................................. ٦٨٩
د منلو او ارزښتمن ګڼلو حيرانتيا............................................... ٦٩١
د حق پلټونکي پېريان ، پېغمبران او نور ستر انسانان........................... ٦٩٢

ادیبانو ته حیرانوونکی ........................................ ۶۹۵
حقوقپوهانو ته حیرانوونکی ........................................ ۶۹۵
سمندر پوهانو ته حیرانوونکی ........................................ ۶۹۷
اقتصادپوهانو ته حیرانوونکی ........................................ ۶۹۷
ښوونیز پوهانو ته حیرانوونکی ........................................ ۶۹۸
ټولنپوهانو ته حیرانوونکی ........................................ ۶۹۸
اروا پوهانو ته حیرانوونکی ........................................ ۶۹۹
کیسه لیکونکو ته حیرانوونکی ........................................ ۶۹۹
خواږه پوهانو ته حیرانوونکی ........................................ ۷۰۰
قانونپوهانو ته حیرانوونکی ........................................ ۷۰۰

## اتلسم فصل

(۱۳) النور ، رڼا ........................................ ۷۰۱
موږ او رڼاگانې ........................................ ۷۰۲
سیاسي رڼا ........................................ ۷۰۲
اقتصادي رڼا ........................................ ۷۰۳
یوه تېروتنه ........................................ ۷۰٤
تعلیمي رڼا ........................................ ۷۰۵
ناهیلي نه یو ........................................ ۷۰٦
اجتماعي رڼا ........................................ ۷۰٦
پېغمبر ستره رڼایي ........................................ ۷۰۸
قرآني رڼا ........................................ ۷۰۸
قرآن چا ته رڼا ده؟ ........................................ ۷۰۹
قرآني رڼا هله ځلیږي ........................................ ۷۰۹

## نولسم فصل

(۱۴) الأثارة ........................................ ۷۱۳
قرآن او علم ........................................ ۷۱۳
د نړېوال ښوونیز سیستم درې معیارونه ........................................ ۷۱٤

پوهه ، مهارت ، وجداني روزنه........................................................ ۷۱٤
۱. پوهه.................................................................................... ۷۱٤
درسي وسایل.............................................................................. ۷۱۸
قرآن او واقعي علم...................................................................... ۷۲۰
علم ..................................................................................... ۷۲۰
قرآني علوم یعنې څه؟ .................................................................. ۷۲۲
قرآن او د سالم علم اصول.............................................................. ۷۲٤

**شلم فصل**

(۱۵) الحق................................................................................ ۷۳۳
حق پالونکي د پېغمبرانو رښتیني وارثان.............................................. ۷۳٤
قرآن رښتینی حق ........................................................................ ۷۳۵
قرآن ، حق او حقدار..................................................................... ۷۳۵
قرآن او حقپال شخصیتونه .............................................................. ۷۳٦
حقپالنه او قرآني نصاب ................................................................. ۷۳۷
یو وړاندیز................................................................................ ۷۳۸
حقپاله قرآن لوستنه...................................................................... ۷۳۸
حقپال او حقیقتپال د قرآن کریم بنسټ................................................ ۷۳۹
د حقیقت او حق ډګرونه ................................................................ ۷٤۰
د مسلمان وجیبه.......................................................................... ۷٤۰

**یوویشتم فصل**

(۱٦) انزلنا علی عبدنا ................................................................. ۷٤۱
۱. هوسپال او قرآن ..................................................................... ۷٤۱
د ژوند تجربه ............................................................................ ۷٤۲
۲. شهرت پال او قرآن .................................................................. ۷٤۳
۳. مال پال او قرآن ...................................................................... ۷٤٤
٤. د خېټې پر بنده ....................................................................... ۷٤۵
۵. د قوم مریی او قرآن کریم............................................................ ۷٤٦

٦. تمبلي او قرآن ........................................................ ٧٤٦
دوه ویشتم فصل ........................................................ ٧٤٩
(١٧) ولا یزید الظالمین الا خسارا ........................................ ٧٤٩
اقتصادي ظلم........................................................ ٧٦٥
زده کړه ایز ظلم ........................................................ ٧٦٦
تربیوي ظلم ........................................................ ٧٦٦
ازدواجي او کورنی ظلم........................................................ ٧٦٩
گاونډیتوب ظلم ........................................................ ٧٧٠
اخلاقي ظلم........................................................ ٧٧١
د بد اخلاقیو سرچینه........................................................ ٧٧١
د ځان سپکاوی( استخفاف) ........................................................ ٧٧٢
پر استعدادونو ظلم ........................................................ ٧٧٣
جنسي ظلم ........................................................ ٧٧٤
حقوقي ظلم........................................................ ٧٧٥
رسنیز ظلم........................................................ ٧٧٥
پر نسل ظلم........................................................ ٧٧٦
کورنۍ شخړې او جنجالونه ........................................................ ٧٧٨
پر فصل ظلم ........................................................ ٧٧٩
پر ماشوم ظلم........................................................ ٧٨٠
پر ښځې ظلم ........................................................ ٧٨٠
د ظالمې کورنۍ انځور........................................................ ٧٨١
پر نارینه ظلم........................................................ ٧٨١
پر کارگر ظلم........................................................ ٧٨٢
په لمر کې وربانديې کار کول ، ظلم دی ........................................ ٧٨٢
پر ناروغانو ظلم ........................................................ ٧٨٢
په ناولو شیانو درملنه ........................................................ ٧٨٤
پر اساسي اړتیاوو ظلم........................................................ ٧٨٥
رهایشي ظلم ........................................................ ٧٨٦
مسلکي ظلم ........................................................ ٧٨٦

پر قوم ظلم ........................................................................ ۷۸۷
ظالمانو ته یو پرانیستی لیک ........................................................ ۷۹۰

## درویشتم فصل

(۱۸) النَّبَأ (لویه خبره)........................................................... ۷۹۳
قرآن «أَنْبَاءِ الْغَيْبِ» دی ............................................................ ۷۹۳
قرآن «نَبَأ الْمُرْسَلِين» دی ........................................................... ۷۹٤
«أَنْبَاءِ الْقُرَى» د سیمو خبرې ........................................................ ۷۹٦
رښتینی او حقپالونکی خبر ........................................................... ۷۹۹
کمزوري قرآن لوستي .................................................................. ۸۰۰
وړو خبرو لویې خبرې پټې کړې......................................................... ۸۰۱
د رښتیني خبر تر څنګ دردناکه وضع..................................................... ۸۰۱
څه باید وشي؟ ........................................................................ ۸۰۳
کومې خبرې باید ځواب شي؟ ........................................................... ۸۰۳
شرعي حکم ، مرتبه او د اختلاف لامل.................................................... ۸۰٤
مفاسد: (حرام ، مکروه تحریمي ، مکروه تنزیهي ، مباحات)................................. ۸۰٤
مصالح (فرض ، واجب ، سنت مؤکد ، زواید ، مستحبات)................................... ۸۰۵
د امام احمد بن حنبل رحمه الله تشخیص او تجویز ........................................۸۰٦
عقل او عاطفې ته خبر ................................................................. ۸۰۸
عقل او عاطفه پرې رنېړي ............................................................. ۸۰۹
د بشر مشترک غږ...................................................................... ۸۰۹
قرآن د عقل او عاطفې ژبه ............................................................. ۸۱۰
د ټولنیزو اړیکو د سمون خبر .......................................................... ۸۱۰
د رښتیني خبر تر څنګ بې خبره ولس..................................................... ۸۱۱
د ژوند پرمختیایي خبر ................................................................ ۸۱٤
د کیسو په بڼه خبر ................................................................... ۸۱٤
د رنځونو د مخنیوي او درملنې خبر ..................................................... ۸۱۵

## څلورویشتم فصل

(۱۹) القصص (کیسې)..................................................................۸۱۷
د قرآني کیسو ځانګړتیاوې ............................................................۸۱۷

١. حق ستاینه او مفسد څپنه ........................................ ٨١٨
٢. عبرتناک حقوقي انځورونه ........................................ ٨١٨
٣. حقیقي او رښتینې کیسې ........................................ ٨٢٢
٤. سپېڅلموخې او عملي کیسې ........................................ ٨٢٣
٥. عبرتناکې کیسې ........................................ ٨٢٣
٦. ګټورې کیسې ........................................ ٨٢٤
٧. وړتیا پنځوونکي کېسې ........................................ ٨٢٤
٨. ویښتیا ........................................ ٨٢٤
٩. فکر ........................................ ٨٢٤
١٠. عبرت او تقلید لپاره ........................................ ٨٢٥
١١. رښتینې او حقپالې کیسې ........................................ ٨٢٧
١٢. عاطفي پیاوړتیا ........................................ ٨٢٧
١٣. زړورتیا ........................................ ٨٢٧
١٤. هیله من کول او ویښول ........................................ ٨٢٨
١٥. اړتیا او وړتیا ........................................ ٨٢٨
١٦. بشري وړتیاوې په عمومي توګه دوه ډوله دي ........................................ ٨٢٩
١٧. د قرآني کیسو موخه ، وړتیاوو سالمه وده ........................................ ٨٣١
١٨. هدف او عمل ته ځیرمنې کیسې ........................................ ٨٣٢
١٩. قرآني کیسې روزنیزې تګلارې ........................................ ٨٣٣
٢٠. څه چې پاتې دي ........................................ ٨٣٥
پایله ........................................ ٨٣٧
د قرآن کریم تلاوت ........................................ ٨٣٨
"تزکیه"څلور معناوې لري: ........................................ ٨٣٨
رښتینې قرآنپالنه ........................................ ٨٤٠
انساني ژمنې او د کایناتو تسخیر ........................................ ٨٤٢
د قرآن کریم تدریسي نصاب ........................................ ٨٤٣
لفظي تدریس ........................................ ٨٤٣
د معنا زده کړه ........................................ ٨٤٣
د قرآن کریم تطبیق ........................................ ٨٤٣

قرآنپوه باید رباني شي ........................................................................ ۸٤٤
رباني ........................................................................ ۸٤٥
حلم ........................................................................ ۸٤٥
فقه ........................................................................ ۸٤٥
د قرآني حقونو د ادا ارزونه ........................................................................ ۸٤۹
ماخذونه ........................................................................ ۸۵۳
د لیکوال پېژندنه ........................................................................ ۸۷۰

# د کتاب په اړه نظر

الحمدلله الذی انزل القرآن علی عبده محمد من بني عدنان علیه افضل التسلیمات و صلوات المنان ، و اودع فیه حکمه من شتی علوم القرآن ، و شرح نبیه و صفیه ببسط و بیان و علی آله و ازواجه و ذریاته و صحابته و امته من الانس و الجان.

و بعد:

د [ **مَنُّ الْحَلِيمِ الْمَنَّانِ فِيْ عُلُومِ الْقُرْآنِ**] لړۍ د (**د قرآن کریم نمونه او صفتونه، ښوونیز – روزنیز نقش او آثار**) اثر چې د قدرمن استاد محمد ناصر حلیمي لیکنه ده ، د علومو اکاډمۍ د مشرتابه لخوا د کره کتنې په موخه د تفسیر او حدیث مرکز ته راستول شوی و ، نوموړی اثر د تفسیر او حدیث مرکز له خوا په شپږو برخو وویشل شو او هره برخه یې یوه استاد ته د کره کتنې لپاره وسپارل شوه ، چې یادو استادانو:

څېړنوال عبدالرحمن عادل

څېړنپوه نورالحق عزیزي

څېړندوی محمد امان رسولي

څېړنوال ویس الدین نوري

څېړنوال نجیب الله امین

څېړنوال عبدالرحمن حامد

له خپله اړخه خپل نظرونه جوت کړي ، چې په ټولیزه توګه یې نوموړی اثر د قرآني علومو په برخه کې ډېر مهم او په زړه پورې بللی دی.

د علوم القرآن موضوع ډېره مهمه موضوع ده ، چې علماوو په دې اړه زیات کتابونه او رسالې لیکلي دي ؛ خو د ښاغلي مولوي محمد ناصر حلیمي لیکنه ځکه ډېره د ستاینې وړ ده ، چې په روانه او عام فهمه خوږه پښتو ژبه یې داسې په زړه پورې او ارزښتناک بکر اثر لیکلی دی ، چې ساری یې کم لیدل کېږي او په افغاني ټولنه کې د اسلامي فرهنګ په بډاینې کې ستر رول لري.

نوموړي په خپل دې اثر کې د افغاني ټولنې له اوسني روان کړکېچ څخه د بریالي راوتو یوازنی نسخه په قرآن کې تشخیص کړې ده ، چې په تطبیق سره به یې د دې ناورین ځپلې ټولنې مړاوې هیلې او امیدونه یو ځل بیا راتاند او د ژوند اصلي موخه به ورسره تر لاسه شي.

نوموړي اثر ته ډېر په زړه پورې نوم غوره شوی د [من الحلیم المنان فی علوم القرآن] لړۍ (د قرآن کریم نومونه او صفتونه، ښوونیز-روزنیز نقش او آثار) چې دا د دې څرګندونه کوي ، چې د نوموړي اثر لوستل هر انسان لپاره ډېر مهم دي.

په دې اثر کې قرآني آیتونه ، نبوي احادیث او د علماوو اقوال په ډېره امانتدارۍ د شاهد او دلیل په توګه راوړل شوي ، هر نقل قول او په لمنلیک کې او دغه راز د اثر په اخر کې د ماخذونو په لیکلړ کې ذکر شوي دي.

د عناوینو او فصلونو ترتیب ته پوره پاملرنه شوې ده ، مطالبو ته له عنوان سره سم منطقي تړاو ورکړ شوی دی ، په کومو آیتونو چې استدلال شوی له مطلب سره د هغه ارتباط او مناسبت ته پوره پاملرنه شوې ده او پاراګرافونو ته هم پوره توجه شوې ده.

تر هر څپرکي لاندې د لنډې سریزې په توګه د موضوع د ښه وضاحت لپاره څو کرښې لیکل شوي دي ، چې د کتاب ارزښت یې څو برابره زیات کړی دی.

د پورتنیو ښېګڼو په لړلو سره د نوموړي اثر چاپ ته وړاندې کېږي ، چې ګټه یې عامه او د علم خپرونه تر سره شي.

د یادونې وړ ده ، چې نوموړو استادانو د مولوي محمد ناصر حلیمي له احساس او اخلاص څخه چې له قرآن کریم ، هېوادوالو سره یې لري ، د زړه له کومې مننه کوي او د رب العزت له درباره ورته د زیاتو بریاوو غوښتونکي دي ، قلم یې تاند په ژوند ، علم او عمر یې برکت شه.

په درنښت

د تفسیر او حدیث مرکز ریاست

# تقریظ

**قرآن کریم له یوې شعور پارونکي زاویې نه:**

د وخت د کمي او د روژې مبارکې تنګو فرصتونو باوجود ما د استاد محمد ناصر حلیمي کتاب [د قرآن کریم نومونه او صفتونه، ښوونیز – روزنیز نقش او آثار] ولوست.

کتاب په څو ژوندیو تاثرونو ونازولم:

**اول تاثر**

دا چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد لښکرو د ماتې په حساب د هجرت یعنې د پېښور د بې وطنو افغانانو په ماحول کې چې د بلا منفي تاثراتو تر څنګ یې مثبتې میراثې درلودې ، یوه پکې همدا وه چې زموږ خلک په هجرت کې د قرآن ، قرآني درسونو او په مجموع کې ددینپوهنې له فیوضاتو نه بهرمند شول او هجرت موږ ته د قرآن ، مسجد او لمانځه سره اشنا نسل د یوه سوغات په توګه راکړ ، چې یو هم له دغه ځوانانو نه چې د سیدجمال الدین په شان ژوندیو لېسو کې د هجرت په کور کې یې اسلام او علوم لوستي ، استاد ناصر حلیمي دی چې دا زموږ په لاس کې کتاب یې یوه ژوندۍ نمونه ده.

استاد حلیمي له قرآني ارزښتونو نه ډېر ژور تاثر اخیستی دی او د همدې ژور تاثر له هسکو نه د قرآن کریم او الهي هدایاتو خلاف تلونکو افغانانو باندې په همدې کتاب کې داسې خطاب لري:

همدومره بس دی چې مسلمانانو پېړۍ پېړۍ له ښکنځلمارو قیادتونو نه خپل ژوند او پت ځار کړی (۸۱) صفحه.

واقعاً په کچه او خامه کې روان مجاهدین او قیادتونه له همدې قرآني ارزښتونو سره له فاصلې نه په کړو سر شوي دي.

**دویم تاثر**

دا چې استاد محمدناصر حلیمي په قرآن کریم کې د قرآن کریم لپاره له منتخبو نومونو او صفتونو نه په الهام د دې اسماني کتاب سجل شوي مؤثریتونه پخپله طریقه

درک ، راټول او مطرح کړي چې په لوی سر کې د قرآن کریم لویې موخې هم پکې همدا دي.

**درېیم تاثر**

او تر ټولو پر ځای تاثر هغه دا چې استاد ناصر حلیمي په یوه ډېره تکرار هڅه کې د کتاب په زیاتو برخو کې د قرآن ، لمانځه او نورو قرآني ارزښتونو په اړه او له هغو نه د ګټنې او ددغو د اغېز د بشپړولو لپاره یوه غوره لاره انتخاب کړې او هغه دا چې قرآن کریم او لمونځ دواړه باید په بشپړه توجه ولوستل شي.. او زده شي.. او د عمل لاربښود شي.. یعنې چې قرآن کریم د عمل او تطبیق لپاره زده کړو او ددغه ایمان پالونکي اغېز په لړ کې خلک اسلام او قرآنپوهنې ته دعوت کړو.

دا ټول د استاد له نظره هغه څه دي چې قرآن کریم د دغسې سړیو په وسیله ایله په ټولنه کې د مثبت بدلون او پخپل ماحول کې د یو اغېزمند دعوت اولنی ګام اخېستی شي.

**څلورم تاثر**

دا چې دا لیکنه د قرآن کریم او دعوت شوې ټولنې په منځ کې د تعامل او متبادل اغېز او په مشخص ډول له قرآني هدایاتو سره د استقبال کوونکو او بېباکه تصادم کوونکو په اړه د هدایت او عمه [د عقل کوښوالی] متفاوت کردار ته په یو صوفیانه ژور تحلیل کې هغه څه راټول کړي چې لوستونکی پخپله تجربه کې نوي عمل او نوي نظر ته هڅوي هغه له هدایت نه د محرومو سلسلو په لړ کې د متکبرینو نوم اخلي او په دې اړه هغه هاغه کسان هم په ګوته کوي چې په ناخبرۍ کې د کبرجنو د سجل برخه دي.

(كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ).[1]

**متکبر**

د خلکو حق خواړه ،

غاصب انحصارګر ،

غله رشوتخواره ،

---

۱ . غافر:۳۵.

هر حق خور متکبر دی ،
د اولادونو په اړه بې پروا پلار ، مور ، نیا او نیکه کبرجن دي.
د شاگردانو د حقونو د اداء په اړه بې پروا مؤسس ، مدیر ، معلم او استاد متکبر دی(۴۰۱).

په همدې موخه حلیمي صاحب الهي هدایات له هغې معمولي تقلیدي جغرافیې نه (یعنې انسان لوړو اخلاقو ، عباداتو ، مشروع معاملاتو ته دعوت او د محرماتو له سلسلې نه د انسان خبرول) یوې نوې جغرافیې ته وړي وای.

هدایت یوه عامه لاربښوونه ده چې په قرآن کریم کې په (هدی للناس) تعبیر شوې او بله معنا یې عمل ته چمتو کوونکی او هدف ته رسوونکی دی ، چې قرآن کریم پکې د ژوندانه دنیوي او اخروي اړخونو ته لاربښوونه ده، بل ځای وایي: د کائناتو هره ذره موندل او د انسان لپاره د هوسا او پرمختللي ژوند ښېل د کائناتو د تسخیر هدایت دی.(۴۱٦ )

انسانانو چې پخپله اوږده تجربه کې څه راټول کړي او د هغوی نن چې د پرون او بل پرون سره توپیر لري دا د هغو استعدادونو چانسونو د شرایطو او ماحول ګډ اغېز دی چې لوی او وخت بدلونکی خدای همدا اشرف المخلوقات د هغه لپاره همدغسې پیداکړي دي.

(اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (١) خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ (٢) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (٣) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (٤) عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ (٥)). [۱]

د "مالم یعلم " د رنگین تحول پاتې پړاوونه کېدای شي تر دې هم بوږنوونکي او زړه راښکونکي وي.

ولې کله کله لنډفکري په دې رنگین تحول کې ځان ویني او خدای نه.

**پنځم تاثر**

د حلیمي صاحب په لیکنه کې او د کتاب په مختلفو فصلونو کې له یوې انساني پدیدې نه ډېر شاکي دی ، هغه دا چې دا قرآن کریم سره له دې چې د ټول انسانیت د نیکمرغۍ او سعادت لپاره راغلی ، انسان دغې اسماني پیرزوینې ته په همدې لحاظ

[۱] . علق: ۱-۵.

چې هغه د خالق او مالک خدای پیرزوینه ده ، هغسې چې مناسب ده ، توجه ونه کړه او هغسې چې مناسب ده ، چا یې په آیتونو او هدایاتو کې له تدبر نه کار وانخېست او تر ټولو زیاته شکوه او یا گیله یې پخپله له هغو مسلمانانو نه ده چې دا قرآن کریم په لمونځونو کې لولي او له ممبرو یې اوري ، بیا هم په عملي انداز کې خپل ژوند ددغو قرآني ارزښتونو سره برابر نه کړای شو او حلیمي صاحب په همدې لیکنه کې له هغو مذهبي او سیاسي مشرانو نه گیله من دی چې د دې قرآن کریم او مذهب په پلمه یې ځانونه لوړو ځایونو ته رسولي دي ، ولې هغوی د قرآن کریم د لارښوونو خلاف دا امت د خپلو ښکنځلمارو ویناوو او لیکنو په اختلاف او جگړه کې روان کړی دی.

که دغه تقریظ نه اوږدېدای ما به د کتاب نه نورې ډېرې بېلگې رانقل کړې وای.

په دې امید چې د کتابونو لیکونکي پر همدغسې یوې تعمیري لار روان شي او د دې کتاب لوستونکي تر دې زیات پکې پیدا او تر ما زیات د یو تصور له مخې پخپل ژوند ، پخپل عمل او پخپلو روابطو ؛ بلکې پخپل لوست او لیکنه کې نوی نظر وکړي او قرآن ، ژوند ، عبادت او معاملاتو ته له سره نوی نظر واچوي او هر څه د عمل ، انساني خدماتو او د لوی پروردگار د خوشحالۍ په موخه تعقیب کړي.

حلیمي صاحب ته د لا نورو لیکنو توفیق غواړم.

محمدزمان مزمل

۱۳۹۸/جوزا/ ۱۷

# تقریظ

الحمدالله وحده والصلاة والسلام علی من لا نبی بعده!

اما بعد: د الله جل جلاله شانه ؛ د دې ستر کتاب اعجاز په همدې کې دی ، چې علماوو د خپل تخصص په چوکاټ کې له وخت او زمان سره سم د دې کتاب (قرآن کریم) د خدمت لپاره په علمي ډګر کې متې رانغښتې او د دې کلام له مادي او معنوي خدماتو څخه یې خلک خبر کړي او د دې کلام (قرآن کریم) د خدمت لړۍ به تر قیامته غځېږي او خلک به ترې استفاده کوي.

دا دی د همدې علمي لیکنو او د قرآني علومو د خدمت په لړ کې د الله د کتاب (قرآن کریم) د یو بل خادم محترم مولـنا محمد ناصر (حلیمي) صاحب د تالیف (**د قرآن کریم نومونه او صفتونه، ښوونیز- روزنیز نقش او آثار**) یادونه کوو ، چېډېره ګټوره او خوندوره‌لیکنه ده.

زه د نوموړي لیکنې او تالیف په هکله خپل نظر په لاندې توګه څرګندوم.

**اول:** نوموړی تالیف ځکه مهم او معیاري دی ، چې د قرآن کریم له نومونو او صفتونو سره مو اشنا کوي او د قرآن کریم نومونه او صفتونه یادول د هر مسلمان لپاره حتمي دي ، چې ورسره بلد او د نوموړو نومونو او صفتونو عملي او ژوندۍ بېلګه وګرځي.

**دویم:** نوموړی تالیف ډېر غوره مطالب او اوچت مسایل رانغاړي ، چې د مؤلف په پراخه معلوماتو او لوړ احساس دلالت کوي.

**درېیم:** دغه لیکنه په ډېر لوړ ادبي سبک او علمي مېتود لیکل شوی ، چې لوستونکی ترې په ربښتیا هم خوند او پند اخلي.

**څلورم:** په لیکنه کې په قرآني آیتو او نبوي احادیثو یې ډېر معقول استدلال کړی ، چې د تالیف ارزښت یې لا زیات کړی.

**پنځم:** په اخر کې د محترم لیکوال لپاره په علمي او فرهنګي ډګر کې د لا زیاتو بریاوو او پرمختګونو هیله کوم او الله دې یې دا تالیف په حسناتو کې حساب کړي ، قلم دې فعال او احساس دې تاند او ځلاند وي.

په درنښت

پوهاند دوکتور دل آقا وقار

د ننګرهار پوهنتون د دکتورا د برنامې آمر

۱۳۹۸/۹/۱۰

# تقریظ

## قرآن کریم ، روښانه لمر

هغه کتاب چې رحمة للعلمـین، رحمـة للنـاس، رحمـةللمؤمنین، هـدی للعلمـین، هـدی للنـاس او هـدی للمـؤمنین دی، د اللـه لخـوا د بشرـ د نېکمرغـی، پرمختـګ او پرمختیا لپاره بنسټ، د ژوند لارښود او د نېکمرغه ژوند انځور دی.

د همدې خبرې د زباتنې لپاره لله الحمد زموږ فاضل او عـالم ادیـب اسـتاد مولانـا محمد ناصر حلیمي په دغه لیکنه کې په هسکه علمي بڼه پراخه علمي څېړنه کړې ده.

دا ټولګه مې سر تر پایه ولوسته، په لنډو ټکیو کې ترې زما اخیستنه دا ده چې:

د ژوند په ګڼو اړخونو کې زموږ د وروسته پاتېوالي اساسي لامل لـه قـرآن کـریم سره د ټولنې د چلوونکو بې پامي او نا ژمنتیا ده.

د شرعیاتو پوهنځي، مدارس، ممبر او نور ارګانونه د قرآن کریم په ترویج ژمـن دي ؛ خو متاسفانه د قرآني لارښوونو رنګ پکې د شخصي اندونو او ګټو په پرتله ډېر تت دي.

داچې افغاني ټولنه مسلمانه ټولنه ده، خلک یې له اسلام سره لېونی مینـه لـري او خپل اولادونه قرآن کریم ته کېنوي ؛ خو متاسفانه بې خونده اداره او وچه رهبري د پـایلو په ترلاسولو کې خطرزېږی خنډ دی.

د اسـلامي هېوادونـو مشرـان، د وزیرانـو شـوراګانې، نړېـوال حقپـال او علـم پـال سازمانونه باید قرآن کریم د خپلې لارې مشـال کـړي ؛ ځکـه هـر انسـان او هـره ټولنـه د خپلې عقلي وړتیا او عاطفي سپېڅلتیا له مخې ترې هومره پند او خوند اخلي.

دا د مسـلمانانو انحصـاري کتـاب نـه دی ؛ بلکـې د ټـولې نـړۍ لپـاره د رحمـت او هدایت سرچینه او ژونددود دی. هر اصلاحي او پرمختیایي سازمان چې په فساد او ظلم لتاړ نه وي، قرآن کریم ته په عملي مراجعې په لـږ وخـت او لـږې انـرژۍ د وګـړو او ټولنـو نېکمرغي تضمینیدای شي.

د ټولنې د فکري دنګې مانۍ لـه رغوونکیـو قلموالـو او لیکوالـو، هنرمنـو او حکـاکو شاعرانو مې هم هیله ده، چې پخپلو هنري پنځونو او تخلیقاتو کې د خپـل اسکېرلي او

نتلي اولس بېوزلي او کونډې رنډې چې دا څه باندې څلور لسېزې د هر ماښام ډوډۍ له اوښکو سره خوري-له پامه ونه باسي او د خپلو ویاړلیو قلمونو په څاڅکي څاڅکې وینه د دوی د ملي او سیاسي برخلیک سازۍ ویاړ وګټي.

له اقبال نه پوښتنه وشوه چې ستاسې شعرونه ولې دومره خوندور او اغېزمن دي؟ هغه وویل چې زما د پلار په نصیحت چې:

بچېه! قرآن کریم داسې لوله لکه پر تا چې نازل شوی وي.

ادیبان، لیکوال، خطیبان او شاعران دې قرآن کریم ته مخه کړي، چې هم د اقبال په څېر خپله عاطفه څرګنده کړي او هم عقلي توازن وساتي او خپله ټولنه د ښو او بدو له پلوه وارزوي او خلکو ته په مورنیو ژبو وګړیز، ټولنیز او طبیعي حقایق ښکاره، حقونه اداء او ژمنې ترسره شي.

قرآن کریم د دې لپاره نازل شوی چې د بشري ژوند هر اړخ خوندي، عزتمن، پتمن، پرمختللی او د بشر- د سعادت پر محور یې وڅرخوي، مخالفتونه کابو کړي او اختلافات داسې هوار کړي، چې د بشر د مادي پرمختیا او معنوي لوړتیا لامل او قرآنپوهان د بشري سعادت محور شي.

دولت او دولتی چارواکو ته وړاندیز او هیله ده، چې که پوهیږي چې د دوی ملي کړنلار او پلانونه د دې ځپلي، غولیدلي او منتظر اولس د سوکالۍ تضمین نشي کولای ؛ نو د همغه ذات په پار دې-چې دوی یې خپلې ویناوې په نامه پرانځي. پر خپلو مسلکي ژمنو، ټولنیزو تعهداتو، منتجو کړنو او سیاسي برنامو د زړه له تله په پوره سپېڅلې مینه یوه ژوره بیا کتنه وکړي.

اوس هم دولت باید داسې مسلکي اداره رامنځته کړي چې د افغاني ټولنې د روان کړکېچ د هواري لپاره له قرآن کریم نه نسخې را واخلي، رنځونه تشخیص کړي او د درملګرو ځانګړنې په ګوته کړي. او قرآنپوهنه له وړکتونه تر پوهنتونه وغزوي، د ټولنې مشر او کشر باسواده او بې سواده د روغمن ژوند د رامنځته کولو لپاره پرې یو شان پوه شي او د قرآني حلقاتو په سمبالولو سالم عدلپال، مظلومپال او علمپال چاپېریال رامنځته کړي.

همداشان د خپل اولس درمنو، ژمنو او متعهدو ځوانانو ته ځولی غوړوم، چې د خپلې ټولنې د یوه سوکاله او سیال ژوندانه د ښکلا لپاره پر خپلو هڅو او فکري تعهد له اولس سره یوه نه ماتېدونې او کوټلې ژوره کتنه وکړي.

د خپلې ملي ټولنې د زانګو زنګوونکیو میندو او پتمنو خویندو مې تمه او هیله ده چې د نوي عصر د ننګوونکیو پرمختیاوو ته په پام خپلو بچېو او اولادونو ته د پرون پر خلاف په زانګو کې د للو للو د زمزمو پرځای ژوند ښساندې او ژوند ځلاندې ترانې سندریزې کړي.

د دغې ستړې هیلې او ارمان د ترسره کولو لپاره د مولینا حلیمي دغه ارزښتناک اثر یو ښه تطبیقي لارښود او روښانه تګلار ده.

د درانه مولینا په قلم دې برکت شي چې د خپلې رنځېدلې او ناورین ځپلې ټولنې د درملنې لپاره دغسې ډېرې نورې حاذقانه نسخې وړاندې کړي.

د یوه پرمختللي، سوکال او بسیا افغانستان په هیله

محمد آصف صمیم

۱۵|۲|۱۳۹۸

## تقریظ

## د استاد حلیمی پر اثر څو کربښې

که څه هم د حلیمي صاحب پر اثر څه لیکنه که هغـه هـر ډول کـره کتنـه وي. زمـا ځانګیزه دنده نه ده. خو د فرهنګیانو او لوستي قشر تر منځ د اسـتاد حلیمـي شخصـیت دومره خوږ او ټولمنلی دی چې هېڅوک هم تـرې لمـن را ټولـولی نشي. زه یـې لـه ډېـر وخت را هیسې آن د استاد صمیم د ګرځنده مدرسه عالیه له وختـه پېـژنم. چـې څـومره دروند او راښکونکی شخصیت لري.

د مولانا حلیمي دغه اثر یواځې ماته نه باید هر خواخوږي افغان ته د دلچسـپۍ وړ وي. ځکه چې پکې له روزنیزو تحلیلونـو ډېـر کـار اخېسـتل شـوی دی. دا یـوه ډېـره د پـام وړ خبره ده چې روانو فرهنګي یرغلونو موخه زمونږ ځوان کهول یی لري او پدی هېـواد کـې د پېړیو پېړیو د دین اهمیت، احسـاس او د مـلي ارزښـتونو د را ټیټولـو او لـه منځـه وړلـو هڅه ده، پدې اثر کې که همدې یوې خوبۍ ته وکتل شي د لیکوال مسـؤولیت اوژمنتیـا پوره کیږي.

څرنګه چې د ګردو شرقي ژبو اساس عربي ده. داستاد متن کلاسیک رنـګ خپـل کـړی، پدی معنا چې دپېړیو به هره پوړۍ کې به خپل ارزښت له لاسه ورنکړي. د اسـتاد الفـت په وینا پرخپل ادبي او علمـي منطـق سربېـره دپښـتو، دري او اردو پـر شـوې بېلګـو هـم استناد کوي، او خپلـو ځوانـو لوسـتونکو تـه ښـیي، چـې زمـوږ دینـي قرابـت او فرهنګـي هماهنګي له پولو اوښتې ده. د اسلام مقدس دین په غیږ کې ټوله نړۍ ځاییدلی شي.

پر ځای ایتونو، حدیثونو او د علماو ویناو نقل قول، د لیکوال پراخـه مطالعـه او د لیکنـې توثیق په ښه کوي همدارنګه متلونو، کیسو او بېلا بېلو اقوالو دغه غوښنه او پنـډه لیکنـه زړه ناستې کړې، او د اثر سپېڅلی مرام یې په ولسي او کولتوري رنګونو ښکلی او رنګېنـه کړی دی.

په کتاب کې له (۱۴۰)اخځونو استفاده شوې چې دومره ګڼو ماخـذونو یـې د تحقیـق او څیړنې پله ډېره درنه کړېدهږ پېچلي مسایل پـه ډېـره ښـه ژبـه تحلیلـوي او پـدې توګـه د

لوستوالو په پوهیدا کې هېڅ ستونزه نه پرېږدي. تر ټولو غوره دا ده چې په ټولنه کې رواني ستونزې گام پر گام څېړي. که څه هم د اثر موضوع د قران نومونو او صفتونو بنسټیزه څېړنه ده او دا را زده کوي چې اسلام بشپړ دین او داسې ستونزه نشته، چې حل یې پکې ونه موندل شي.

دعلامه اقبال په وینا: (( صد جهان باقیست در قرآن هنوز ))

هره زمانه د خپل روح په ژبه خبرې کوي چې له عظیم الشان قرآن به دخپلې اجتهادي پوهې په برکت نړیوالو ته نوي جهانونه د ژوند تگلاره او د ټولنې جوړښتونه ورپېژني .

دا غنیمت اثر د ځوانانو لپاره لیکل شوی، لیکوال د ټولنې نباض په توگه د ټولنې په شا رگونو هم د خپل اروپوهنیز تفکر گوتې ږدي او د ناروغه ټولنې دروغتیا لپاره ډول ډول علومو ته سر ورښکاره کوي.

له درانه حلیمي صاحب د (هم خرما او هم ثواب ) اثر ډېره مبارکي وایم، او له نورو پوهانو هم غواړم چې خپله مخه ټولنې او ځوان قشر ته راواړوي او د ده دغه مبارک یون بدرگه کړي.

جزاک الله

پوهنوال فضل ولي ناگار

پوهنتون مېنه

۱۰/۴/۱۴۰۰